مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

زلمی نصرت

۲۰۲۴/۰۱/۲۲

ارض او فرض *

عمري ته

باچا خان لاړو عمري ته
د اسلام مرکز مکي ته

له مکي نه فلسطین ته
مقدس او پاک زمین ته

ټول ګرد ناست و انتظار کي
د مهدي راتګ تلین ته

یهودان مصروف د کار و
لوی قصرو ته ور قطار و

لوی مانۍ یې جوړولې
ټینګ بنیاد یې ایښودلې

مقدس او پاک زمین دوی
په څو چنده را نیولې

عربانو خرڅولې
یهودانو رانیولې

ما وې ای زما همدینو
فکر وکړي زما خود بینو

خرڅوی ولې دا ځمکې؟
ځان درنه کړي د بل سپکې؟

وی سوچ مه کوه دینداره
زه وهه دې خپله لاره

ای د دین نه ناخبره

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

غوږ دې ونیسه دلبره

را روان دی څوارلسمه
د امام سره یې ویشمه

واپس اخلو خپلې ځمکې
بیله سپورې بیله سپکې

که په زور که په رضا دی
نن ددوی سبا زما دی

ما وی دوی هم سر تنبه دي
له خپل ځانه بیګانه دي

څوارلسمه شوله تیره
ددوی ویره شوله ډیره

نه مهدي شته نه امام نور
زمان هم شولو تمام نور

چې خرڅ کړی چا خپل ارض دی
ا تیر شوی له خپل فرض دی

---

* نصرت زلمی، زه د رڼا په مانا نه پوهېږم (شعري ټولګه)، شهباز خپرندوی ټولنه، ۲۴ ـ ۲۶ مخونه، ۲۰۱۹ کال.



باچاخان په ۱۹۲۶ م کال کې حج نه وروسته فلسطین ته تللی و، دا نظم د هغه د خاطرو پر بنیاد تنظیم شوی دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ